HUMAN RIGHTS LEAGUE
LIGA ZA ĽUDSKÉ PRÁVA

سلام SalamSK

Liga za ľudské práva
Račianska 80, 831 02, Bratislava
IČO: 31807968 / DIČ : 2022095471
www.hrl.sk



ایا تاسو د کوم جرم قربانی یاست او نه پوهیږی څه وکړی او ستاسو حقوق څه دی؟

پدی ویډیو کی موږ به تاسو ته تشریح کړو چی څوک د جرم قربانی کیږی او د جرمونو قربانیانو سره کوم حقوق تړاو لری. د جرم قربانی هر هغه څوک دی چی د جرم له امله زیانمن شوی وی، دا که د روغتیا یا شخصی زیان، دملکیت زیان ، یا روانی زیان وی، د مثال په توګه لکه فشار، تنګتیا یا اضطراب . تاسو په هغه صورت کی هم قربانی کنل کیږئ که تاسو د کوم جرم په وسیله صرف د ورته زیان خطر سره مخامخ وی. هرڅوک دجنسیت، نژاد، تابعت یا ملیت او مذهب په نظر کی نیولو پرته د جرم قربانی کیدای شی.

https://www.youtube.com/watch?v=vUFr0DZZrAQ&t=11s

مهمه نده چی مجرم پیژندل شوی او مجازات شوی دی که نه. همدا راز مهمه نده چی تاسو پولیسو ته د جرم په اړه راپور ورکړی یا نه . که تاسو دجرم مستقیمی پایلی په توګه زیان لیدلی وی ، تاسو قربان یاست.

تاسو څنګه پوهیږی چی تاسو د کرکی د جرم قربانی شوی یاست؟

د کرکی پر تړاوهڅونکی جنایی جرم معنی یو فزیکی، لفظی یا بل برید دی چی شخصآ تاسو په وړاندی د تعصب له امله ستاسو د ځانګړی خاصیت په دلیل را منځ ته کیږی، کوم چی د مثال په توګه، د پستوکی رنګ یا مذهب کیداشی. د تاوترخوالی او کرکی جنایتونو قربانیان په ځانګړی ډول زیان منونکی قربانین بلل شوی، چی ددولت له خوا په لوړه کچه دخوندیتوب حق لری. دجرم قربانی په توګه، تاسو ډیر حقونه لری چی که تاسو وغواړی کولای شی لاس ته به یئ راوړی مګر حتمی نه ده چی غوښتنه یی وکړئ. په لومړی حالت کی تاسو حق لرئ هغو سا زمانونو ته مخه کړئ چی مسلکی حقوقی، تولنیز او روانی مرستی د جرم د قربانیانو لپاره چمتو کوی.

تاسو پولیس ته د جرم د راپور ورکولو حق لرئ، که تاسو ددی پریکړه وکړی، نو تاسو کولای شئ یو اعتباری کس له ځان سره واخلئ، د مثال په توګه یو سړی چی تاسو یئ پژنئ او پری باور لرئ او ستاسو ملاتړ به وی. همدا رنګه کولای شئ له خپل وکیل سره یو ځای پولیسو ته ولاړ شئ چی نوموړی به د قانون د رعایت څارنه وکړی.

Financovaný Európskou úniou

Projekt SalamSK – Bojujeme proti islamofóbii a podporujeme obete nenávistných trestných činov na Slovensku je podporený z prostriedkov Európskej únie, v rámci programu Práva, Rovnosť a Občianstvo (2014 - 2020).

پولیس مکلف دئ چه تاسو ته د جرمی راپور د درج کیدو د امکاناتو په اړه او دجنایی جرم د درجولو وروسته په نورو مرحلو کی معلومات چمتو کړی.

تاسوته به پولیس وخت درکړی چی په خپله ژبه هغه څه تشریح کړی چی تاسو ته پیښ شوی . دا مهمه ده چی تاسو ټول هر هغه څه ووایی چی تاسو د برید سره په تړاو کی په یاد لرئ. پولیس باید تاسو سره په مهربانه ډول چلند وکړي او تاسو ته غوږ ونیسي. مه ویریږئ پولیسو ته د تاسو په وړاندی د کرکی د برید راپور ورکړئ، دا حقیقت چی تاسو دجرم قربانی یاست به ستاسو د پناه غوښتنې پروسی یا په سلواکیا کی ستاسو د



استوګنی په جواز باندی هیڅ ډول منفی تاثیر ونه لری. پولیسو ته دجنایی جرم راپور ورکول دسلوکیا له خاوری د ستاسو شړلړودلیل نشی کیدای.

د جنایی جرم د راپور ورکولو ورسته جرمی اجرعات او پروسه پیل کیږی دا پدی معنی چی دولت او هغه دولتی ارګانونه چی جنایی جرمونو مسولیت پرغاړه لری تحقیقات پیل کوی تر څو د جنایی جرم وځیړی او مجرم ته جزأ ورکړی. تاسو اړتیا نه لری چی مستقیمآ جرمی راپور ورکړی دا د ستاسی په استازیتوب دبل شخص او یا سازمان لخوا هم درج کیدای شی، ولی دا چی که تاسو دجرم قربانی یاست پولیس به تاسو د شاهدی ورکول لپاره جلب او احضار کړی.

دجنایی جرم په جریان کی هر هغه چا ته چی خساره رسیدلی وی د زیانمن په توګه ګڼل کیږی . د قربانی او زیانمن شخص فرق دادی چی زیانمن دجرمی دوسیي د یو طرف په توګه ګڼل کیږی، پدی معنی چی دولتی چارواکی لکه پولیس، څارنوالی یا محکمه به ورسره فعاله اړیکه ساتی.
هر زیانمن شخص دجنایی جرم قربانی بلل کیږی ولی هر قربانی شخص زیانمن نه ګڼل کیږی، دا په هغه صورت کی پیښ کیدای شی که د یو قربانی شخص په توګه د جنایی جرم په اړه راپور ورنکړی او پولیس ددی جرم په هکله معلومات ونلری٠ په عمل کی ممکن داسی شرایط هم شتون ولری چیری چی پولیس پوهیږی او د جرم په اړه تحقیقات کوی مګر نه پوهیږی چی تاسو ددی جرم قربانی یاست. پدی حالت کی که تاسو وغواړی د زیانمن په توګه وپیژندل شی او له دی موقعیت څخه استفاده وکړی او خپل اړوند حقونه لاس ته راوړی، نو موږ تاسو ته دا سپارښتنه کوو چی ښه به وی سمدستی د پولیسو یا څارنوالی دفتر سره اړیکه ونیسئ. د زیانمن شوی کس په توګه حق لری

Financovaný Európskou úniou
Projekt SalamSK – Bojujeme proti islamofóbii a podporujeme obete nenávistných trestných činov na Slovensku je podporený z prostriedkov Európskej únie, v rámci programu Práva, Rovnosť a Občianstvo (2014 - 2020).

هغه دویسه یا فایل چې ددی جرم او ستاسی د جرمی راپور او شاهدی ورکولو په بنسټ بشپړه شوی وګوری او تفتیش کړی، ستاسو په ګټه ثبوت وړانی کړی، دمحکمی په جلسو کی برخه واخلئ، که د محکمی قضاوت یا حکم سره موافق نه یاست په وړاندی داستیناف غوښتنه وکړی.

د ټولو هغوجرمی کړنو، پریکړو اوتصمیمونو په جریان کی چی د پولیسو اومحکمی لخوا اجرا او نیول کیږی ستاسو له خوا ټاکل شوی سلاکار استازیتوب کولای شی. دا سلاکار باید حقوقی زده کړه ولری ښه به وی که یو قانونی وکیل وی او په جرمی کارونو او د جرمی قربانیانو نماینده ګی کولو کی تجروبه ولری. دا وکیل به په ټولو کړنو کی شتون ولری، تاسو به وکولای شی له هغه سره د خپلو حقونو او مکلفیتونو په اړه مشوره وکړئ، او هغه به تاسو ته د مختلیفو اسنادو محتوا هم توضیح کړي.
د زیانمن په توګه حتمآ لیوالتیا لرئ چی جرمی کړنی او پروسه به څومره دوام وکړی، باید واضیح کړو چی دا پروسه خورا انفرادی دی، مګر په سلواکیا کی د جنایی جرمونو



کړنی او پروسه عمومآ میاشتی او حتا کلونه دوام کولای شی. تاسو ددی وخت په اړدو کی ممکن څو ځله په تاسی باندی د برید په اړه پښتنی وشی اوشاهدی ورکړی. دا کیدای شی تاسو ته مشکل او ستړیدونکی وی، نو شرم مه کوی د اړتیا په صورت کی ارواپوه یا روان پوه سره اړیکه ونیسی. که د جنایی جرم له امله تاسی ته زیان ورسیږئ، حق لری دمجرم څخه د خساره غوښتنه وکړئ.
که د تاوتریخوالی د جرم قربانی یاست، دځانګړي شرایطو پر بنسټ د دولت لخوا د خساره د تر لاسه کولو حق لرئ.

که په کافی کچه په سلواکی ژبه نه پوهیږئ د ترجمان یا ژباړونکی حق لری، ویره مه کوی، له دی حق څخه استفاده وکړی، حتا که احساس لری چی تاسو کولای شئ له ستونزو پرته په سلواکی ژبه خبری وکړی، ولی د پولیسو د تحقیقاتو او یا د حقوقی مشوره په جریان کی اکثرآ مسلکي اصتلاحات کارول کیږئ چی تاسی شاید مخکی هیڅکله ورسره مخا مخ شوئ نه وي او دهغو غلط پوهاوی کولای شی د تحقیق د تر سره کولو لپاره منفي پایلې ولري. هیڅکله داسې سندونه مه لاسلیک کوئ چه دهغو محتوا تاسو ته توضیح او ترجمعه شوي نه وي.

Financovaný Európskou úniou

Projekt SalamSK – Bojujeme proti islamofóbii a podporujeme obete nenávistných trestných činov na Slovensku je podporený z prostriedkov Európskej únie, v rámci programu Práva, Rovnosť a Občianstvo (2014 - 2020).

که احساس لری چی تاسو د میلیت، تابعت، مذهب او یا په عمومی کچه د بهرنی په توګه د کرکی پر تړاو هڅونکی جنایی جرم قربانی شوي یاست او تاسی پدی برخه کی لا زیاتو معلوماتو ته لیوالتیا او ضروت لرئ مهربانی وکړی موږ سره اړیکه ونیسئ په خوښی سره به تاسوسره مرسته وکړو.

Financovaný Európskou úniou

Projekt SalamSK – Bojujeme proti islamofóbii a podporujeme obete nenávistných trestných činov na Slovensku je podporený z prostriedkov Európskej únie, v rámci programu Práva, Rovnosť a Občianstvo (2014 - 2020).